
# د کاغذي قاپ څخه جوړ شوی ساعت

| | |
|---|---|
| **درجه** | ۱ درجه ( د عمر ګروپ له ۶ څه تر ۷ کلونو پورې) |
| **اړینې سرچنې** | کاغذي قاپ (د هر زده کوونکي لپاره ۱ دانه)<br>قلم یا پنسل ( د هر زده کوونکي لپاره ۱ دانه)<br>د مختلفو اندازه لرونکو لښتي (۲ دانې د هر زده کوونکي لپاره)<br>سپینه تخته او یا توره تخته (اختیاري) |
| **د سرچینو لپاره بدیلې لارې** | د یوه کاغذي قاپ پرځای زده کوونکي کولی شي د یوې ورقې څخه چې په مینځ کې یې د یوې دایرې شکل رسم شویوي کار واخلي.<br><br>د لښتو پر ځای زده کوونکي کولی شي چې د هرهغه څیز څخه چې مستقیم او نازک وي کار واخلي لکه د غاښونو لرګي او داسې نور. زده کوونکي باید دوه شیان له دوه مختلفو اندازو سره ولري ترڅو هغه د ثانیه ګر او د ساعت د ستنې په حیث وکاروي.(وړوکی د ثانیو او اوږد د ساعت د ستنو لپاره) |
| **د پوښښ موضوع** | عددونه او عملیې، شکلونه او اندازه ګیری |
| **په نښه شوی مهارت** | د یوه انلاګ ساعت په پوهاوی |
| **الهام اخیستنه** | The Mad House |
| **اړین وخت** | ۱۰ دقیقې (د ساعت جوړولو لپاره)<br>۲۰ دقیقې (دلوبې د ترسره کولو لپاره) |
| **پخواني درسونو ته اړتیا** | له صفر څخه تر ۶۰ پورې د عددونو شمیر<br>د پنځو شمیره پریښودل |
| **ملاتړ ته اړتیا** | متوسطه څارنه |

<u>د لوبې قوانین:</u>

| | |
|---|---|
| **موخه** | هغه لوبغاړی چې په پای کې تر ټولو ډیرې نمرې ترلاسه کړي، د لوبې ګټونکی ده. |
| **قوانین** | |

| | |
|---|---|
| **مرحلې** | لمړۍ مرحله: هر زده کوونکي ته یو کاغذي قاپ او یو قلم او پنسل ورکړه. له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د ساعت شکلونه لکه څنګه چې یې په انځورونو کې لیدلی شي جوړ کړي. دوی باید د ساعت په مختلفو برخو کې شمیرې ولیکي<br>دوهمه مرحله: هر زده کوونکي ته دوه لښتې ورکړئ.<br><br>دریمه مرحله: ددې لوبې لپاره به ښوونکی په تخته باندې مختلف وختونه ولیکي، او زده کوونکي باید هڅه وکړي چې تر ټولو د مخه لیکل شوی وخت په خپل ساعت کې د رسم په واسطه وښایې. که چیرته ښوونکی د وخت لیکلو لپاره تخته ونه لري، هغه کولی شي چې وختونه په لوړ غږ سره زده کوونکو ته ووایې.<br><br>څلورمه مرحله: په هر پړاو کې ښوونکی یو وخت وایې او یا یې په تخته لیکي. د بیلګې په توګه، ۶:۳۰ یا شپږ نیمې. باید اطمینان حاصل کړی چې هر هغه وخت چې تاسو یې زده کوونکو ته لیکی یا په صفر ختم شوی وي او یا هم په پینځو باندې. د بیلګې په توګه، ۵:۱۷ په شان وخت مه لیکئ. هر هغه زده کوونکی چې لیکل شوی وخت په خپل ساعت کې لومړی ځای پر ځای کړي، باید ودریږي. ښوونکی به د هغه ساعت د دقت (سموالي) لپاره وګوري.<br><br>پینځمه مرحله: که چیرته زده کوونکي وخت سم رسم کړی وي، هغه ته به یوه نمره ورکړل شي. او که داسې نه وي، نو ښوونکی به د بل هغه زده کوونکي فعالیت وګوري چې دریدلی دی او ساعت یې رسم کړی دی.<br>شپږمه مرحله: د لسو پړاوونو څخه وروسته، هغه زده کوونکی چې تر ټول یې ډیرې نومرې اخیستې دي د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. که چیرته وخت وي، تاسو کولی شی دا لوبه د ۱۰ څخه زیات پړاوه ولوبوی. |
| **انځورونه** |  |

| | |
|---|---|
| **په لوبه کې بدلونونه** | هیڅ |
| **غنې کوونه** | • د عنعنوي وخت ویلو «لکه شپږ نیمې» پر ځای تاسو کولی شئ د عامو وخت ویلو لارو څخه کار واخلئ. د بیلګې په توګه، تاسو کولی شئ زده کوونکو ته ووایئ چې له شپږو څخه نیم ساعت تیر شوی یا پاو کم ۷ بجې دي. دا یوه غوره لاره ده چې کولای شو د کسر ورځنۍ کاروونه زده کوونکو ته معرفي کړو.<br><br>• داسې وختونه استفاده کړئ چې په صفر او یا هم په ۵ نه ختمیږي لکه ۶:۱۷. زده کوونکي به اړ د دقیقې او او ساعت د ستنو د کره استعمال لپاره فکر وکړي او ځان به پرې پوه کړي. |
| **ساده کوونه:** | • تنها هغه وختونه وواياست چې په ۱۵، ۳۰، ۴۵ او صفره باندې ختمیږي<br>• له زده کوونکو څخه وغواړئ چې تنها بشپړ ساعتونه ووايي لکه ۵ بجې.<br>• زده کوونکو ته اجازه ورکړئ چې په جوړه یي شکل سره ساعتونه چمتو کړي. |